**د لوړو زده کړو وزارت**

**وردګ د لوړو زده کړو مؤسسه**

**دعلمي او محصلانو چارو معاونيت**

**اقتصاد پوهنځی**

**د اقصاد پوهنځی لنډه پيژندنه:**

په ټولنه کې د موجودې تقاضأ او اړتیاوو مطابق با کیفیته تحصیلي چوپړونه وړاندې کول د یوه هیواد د ټولو تحصیلي بنسټونو د نصاب او درسي محتویاتو دایمي بدلون، کتنې او ښه والي ته اړتیا لري.

لکه څرنګه چې هیواد والو ته روښانه او جوته ده چې د ټولنیزو، فرهنګی، کلتوری او اقتصادی پرمختیاوو اساسی سته او بنسټ اقتصاد تشکلیوی نو په همدی اساس په یو ټولنه کې اقتصادی وده او پرمختګ اړین او ضروری ګڼل کیږی. د اقتصادی ودی او پرمختګ لپاره د اقتصاد په علم پوه او مسلکي کادرونو ته ډیره اړتیا ده او د دی مسلکي خلکو د روزلو لپاره مسلکي او علمی ځانګو ته اړتیا شته چې د همدې اړتیا پر بنسټ د وردګ د لوړو زده کړو مؤسسي کې د اقتصاد پوهنځی ته مبرم او اړین ضرورت ؤو، د دی ضرورت په نظر کې نیولو سره وردګ د لوړو زده کړو مؤسسي مشر تابه او استادانو دا وپتیله چې د اقتصاد پوهنځی د وردګ د لوړو زده کړو مؤسسي کې تأسیس او عملأ په کار پیل وکړي.

هم هغه وو چې د وردګ د لوړو زده کړو موسسي په چوکاټ کې د اقتصاد پوهنځی د مرکزي زون د جنوب لوديزي حوزې د اړتیاوو او د موجوده اقتصادی ستونزو د حل په موخه د کرهنې، ښوونې او روزنې، کمپوټر ساینس او شرعیاتو پوهنځیو څخه وروسته په ۱۴۰۲ ه ش کال کې د دوه (ملي اقتصاد، اداره او تجارت) څانګو په درلودلو سره تأسیس شوه.

او نوموړي پوهنځی ته د لمړی ځل لپاره په ۱۴۰۳ ه ش کال کې د آزموینو د ملي اداري د عمومي کانکور له لارې ۱۰۰ تنه محصلین د لوړو زده کړو په موخه معرفي سول.